بسم الله الرحمن الرحیم

ستره محکمه

# جریده میزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

پنج شنبه ۳۰ تله ۱۴۰۵ هـ ش | ۱۰ جمادی الأولی ۱۴۴۸ هـ ق | ۲۲ اکتوبر ۲۰۲۶ م | مسلسله شمېره (۱۵۰)

**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زیاتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.

تفسير كابلى، ج ۲، ص ۱۳۰۳

## د سترې محکمې محترم رئيس او قاضي‌القضات د شپږو زونونو له واليانو سره وکتل

د سترې محکمې رئيس او قاضي‌القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب، د چهارشنبې په ورځ (۱۴۴۸/۵/۲هـ ق) نېټه په خپل کاري دفتر کې د ملک د شپږو زونونو له والي صاحبانو سره وکتل.

په دې لیدنه کې د هېوادوالو د ستونزو د حل، هغوی ته د غوره او پر وخت خدمتونو د وړاندې کولو، د عدلي او قضائي خدمتونو پر مهال له هېوادوالو سره د غوره چلند او د امارتي ادارو ترمنځ د همغږۍ او همکارۍ د پیاوړتیا په اړه تفصیلي خبرې وشوې.

د سترې محکمې رئيس او قاضي‌القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب د هېوادوالو د ستونزو د حل او د هغوی د شرعي او حقوقي غوښتنو د څېړنې او حل په برخه کې د اړوندو ادارو ترمنځ د لا زیاتې همغږۍ پر اړتیا ټینګار وکړ.

نوموړي څرګنده کړه، چې د هېوادوالو خدمت، د هغوی د ستونزو پر وخت حل او د حقونو تأمين د امارتي ادارو له مهمو مسئولیتونو څخه دي او په دې برخه کې باید ټولې اړوندې ادارې په ګډه او غوره همغږۍ خپلې دندې ترسره کړي.

د ناستې په پای کې د شپږو زونونو والي صاحبانو د اړوندو موضوعاتو په اړه خپل نظرونه، وړاندیزونه او د خپلو سيمو د چارو په تړاو معلومات شريک کړل.

دغه ناسته د دعاء په ويلو پای ته ورسېده.




## د کابل ولايت قره‌باغ ولسوالۍ د ابتدائيه محکمې مسئولينو په هڅو د قتل (۱۰) کلنه موضوع حل او فصل شوه

د کابل ولايت د قره‌باغ ولسوالۍ د ابتدائيه محکمې د مسئولينو په هڅو؛ د دوو کورنيو ترمنځ د قتل موضوع، په ۱۴۴۸/۴/۱۷ هـ ق نېټه د سولې له لارې حل او فصل شوه.

ياده پېښه شاوخوا لس کاله مخکې د قره‌باغ ولسوالۍ اړوند د «خنجرخېلو» په کلي کې رامنځته شوې وه، چې له امله يې د دواړو کورنيو ترمنځ مخالفتونه او دښمني رامنځته شوې وه.

دغه قضيه ابتدائيه محکمې ته تر راجع کېدو وروسته په غور او دقت سره وڅېړل شوه؛ د محکمې مسئولينو د حکم له صادرېدو مخکې، دواړه لوري سولې او روغې جوړې ته وهڅول، چې د دواړو لوريو لخوا د محکمې دغه غوښتنه ومنل شوه.

د مقتول د کورنۍ له رضايت او هوکړې وروسته، د محکمې له لوري يوه رسمي غونډه جوړه شوه؛ په دغه غونډه کې د مقتول وارثينو قاتل ته بخښنه وکړه او پرېکړه وشوه، چې له دې وروسته به دواړه کورنۍ په پوره امن او سوله کې ژوند کوي او لس کلنه پخوانۍ موضوع يې په رسمي ډول پای ته ورسېده.

د يادونې وړ ده، چې د سيمې اوسېدونکو د قره‌باغ ولسوالۍ ابتدائيه محکمې د دغه اقدام مننه او ستاينه وکړه او د دغه ډول مسايلو حل يې د ټولنې د ثبات او پرمختګ لپاره ګټور وباله.




## به تلاش مسئولين محکمه مرافعه ولايت پنجشير قضيه قتل حل و فصل شد

به سعی و تلاش محترم مولوی محمد عثمان (عامر)، رئيس عمومی محکمه مرافعه ولايت پنجشير و محترم مولوی کمال‌الدين «حامد» رئيس محکمه ابتدائيه ولسوالی حصه اول، با اشتراک قضات و منسوبين محکمه ابتدائيه اين ولسوالی، قوماندان امنيه، علماء، محاسن سفيدان و شماری از اهالی اين ولسوالی، موضوع حادثه ترافيکی منجر به قتل چهار طفل، در تاريخ ۱۴۴۸/۴/۲۹ هـ ق طی يک




نشست اصلاحی حل و فصل گرديد.

در اين نشست، از سوی محکمه ابتدائيه ولسوالی حصه اول قرار قضائی صادر شد که بر اساس آن، مطابق فيصله مصلحين، خانواده قاتل مبلغی پول به خانواده مقتولين پرداخت نمايد؛ هر دو طرف متعهد شدند که به فيصله اصلاحی علماء و محاسن سفيدان احترام گذاشته و از اين پس زندگی روزمره خويش را با يکديگر برادرانه و در فضای صلح و تفاهم به پيش ببرند.

همچنان هر دو خانواده در حضورداشت مشترکين جلسه همديگر را در آغوش کشيده، آشتی نموده و تعهد کردند، که در خصوص همين موضوع در حال و آينده بين همديگر کدام دعوی نداشته و نخواهند داشت.

در اخير رئيس محکمه مرافعه در مورد عفوه و بخشش توصيه‌های اسلامی و اصلاحی نموده، طرفين را به اخوت و برادری تشويق نمودند.

**د قضاء تاريخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته**
**د عمر فاروق ؓ په دوره کې قضاء:**
**۲۵ برخه:**

خو ابو يوسف او محمد (رحمهما الله) وايي: قاضي به پوښتنه کوي، که څه هم مقابل لوري طعن او نيوکه نه وي کړې. ويل کېږي، چې دا د زمان او وخت اختلاف دی، امام ابو حنيفه (رحمه‌الله) په درېيمه پېړۍ کې فتوا ورکوله او د همدې پېړۍ په رښتينولۍ او غوره والي رسول الله ﷺ شاهدي ورکړې.

په بخاري شريف کې عبد الله ؓ له نبي کريم ﷺ څخه روايت کوي، چې وويل: «غوره د خلکو څخه زما د پېړۍ اوسېدونکي دي، بيا هغوی، چې په دې پسې راځي، بيا هغوی، چې په هغې پسې راځي بيا به داسې قومونه راځي، چې د يو کس شاهدي به د هغه له قسم وړاندې کېږي او قسم به يې له شاهدۍ وړاندې کېږي (د قسم او شاهدۍ پروا به څوک نه کوي)».

ابراهيم وايي: «پخوا به يې موږ د دروغو په شهادت او په ژمنه کې د ماتولو له امله وهلو»؛ نو په دې زمانه کې خو (چې امام صاحب په کې و) واک د عادلو خلکو په لاس کې و؛ ځکه خو يې په ظاهري عدالت فتوا ورکوله؛ خو دوو نورو امامانو بيا په هغه پېړۍ کې فتوا ورکوله، چې رسول الله ﷺ يې په دروغجن والي شاهدي ورکړې ده او داسې يې ويلي دي: «بيا به دروغ دومره خپاره شي، چې يو سړی به په شاهدي ورکولو پرته له پوښتنې پيل کوي»، لکه د احمد او نورو په روايت کې چې راځي.

اخذليک: د قضاء تاريخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته، ۷۱ صفحه، تأليف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن: مولوي عبدالرحيم راشد

## دکونړ ولایت ښاري ابتدائیه محکمې رئیس د دغه ولایت له توقیف‌خونو څخه لیدنه وکړه

د کونړ ولایت د ښاري ابتدائیه محکمې رئیس محترم مولوي ظاهرالله (مروان)، د ښاري ابتدائیه محکمې د جزا دېوان رئیس مفتي عزت الله (جواد) او د دې محکمې د عامه امنیت دېوان رئیس، مولوي محب الله (محسن) په ملتیا د ۱۴۴۸هـ ق کال د ربیع الآخر میاشتې په ۲۵مه نېټه د یاد ولایت له توقیف‌خونو څخه لیدنه وکړه.

یاده لیدنه د اسلامي امارت د زعیم عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله‌تعالی) د ۱ /۱۴۴۸/۲/هـ ق نېټې (۲۴۴) ګڼه حکم پر اساس ترسره شوه.

د ښاري ابتدائیه محکمې رئیس او ورسره مل پلاوي په دغه لیدنو کې د توقیف‌خونو وضعیت له نږدې وکاته او اړوند مسئولینو ته یې سپارښتنه وکړه، چې له توقیفیانو سره ښه سلوک او مناسبه رویه وکړي او د هغوی د حقونو رعایت ته پاملرنه وکړي.

## دکابل ولایت د حقوقو رئیس د دغه ولایت د څلورو ولسوالیو د حقوقو له مدیریتونو څخه لیدنه وکړه

د کابل ولایت د حقوقو رئیس محترم مفتي نصیب الله (طیب)، د ۱۴۴۸ هـ ق کال د ربیع الآخر میاشتې په ۲۸مه او د جمادی الأولی میاشتې پر لومړۍ او دویمه نېټه د دغه ولایت د ده سبز، سروبي، پغمان او بګرامیو ولسوالیو د حقوقو له مدیریتونو څخه لیدنه وکړه.

محترم مفتي نصیب الله (طیب) لومړی د هرې ولسوالۍ د حقوقو مدیریت له کاري جریان څخه لیدنه وکړه؛ ورپسې یې اړوند مسئولینو ته ټینګار وکړ، چې له مراجعینو سره نېک چلند کوئ او حقونو ته یې پر وخت رسېدنه کوئ.

په دې سربېره نوموړي د یادو ولسوالیو د حقوقو مدیریتونو د مراجعینو ستونزې او موضوعات واورېدل؛ ډاډ یې ورکړ، چې موضوعاتو ته به یې د اصولو مطابق په ټاکلي وخت رسېدنه کېږي.

دغه راز د حقوقو ریاست رئیس د یادو ولسوالیو د محاکمو له رئیسانو سره هم د کارونو د ښه‌والي او ښې همکارۍ په پار جلا جلا ناستې وکړې او یادو مسئولینو له خپل اړخه د پوره همکارۍ ډاډ څرګند کړ.

## جلسه هماهنگی هیئت رؤیت هلال ولایت کندز دایر گردید

تحت رهبری محترم مولوی عبدالواحد (قریشی) رئیس دیوان جزا و سرپرست محکمه مرافعه ولایت کندز؛ به اشتراک مولوی عبدالواحد مصعب نماینده مقام، مولوی عبدالمومن حازم رئیس شورای علماء، مولوی محمد نجیب الله غفوری رئیس امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات، مولوی حمیدالله عبدالرحمن رئیس ارشاد حج و اوقاف، مولوی غلام رسول حقانی آمر تعلیمات اسلامی ریاست معارف و مولوی شاه ولی معنوی عضو شورای علماء، با تاریخ ۲۹ /٤ /١٤٤٨هـ ق پیرامون وظایف رؤیت هلال جلسه هماهنگی دایر گردید.

جلسه با تلاوت چند آیات از قرآن عظیم الشان آغاز شد؛ بعدًا سرپرست محکمه مرافعه حکم عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله‌تعالی) را که در خصوص رؤیت هلال صادر نموده بود، به خوانش گرفت، تحقق و تطبیق احکامات عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله‌تعالی) را واجب التعمیل دانست و به عملی نمودن آن تأکید نمود.

حاضرین جلسه اظهار داشتند، که در راستا تطبیق احکامات و هدایت مشرتابه و غرض رؤیت هلال تمام تلاش خود را خواهند نمود، تا در زمان و مکان مشخص حضور داشته باشند.

## د لغمان ولایت د مرافعه محکمې رئیس په مشرۍ د رؤیت هلال هیئت غونډه وشوه

د لغمان ولایت د مرافعه محکمې رئیس، شیخ سخي الرحمن (فایز)، په مشرۍ د ۱۴۴۸هـ ق کال د ربیع الآخر میاشتې په ۲۴مه نېټه د رؤیت هلال هیئت د غړو ترمنځ د همغږۍ غونډه وشوه.

د غونډې په پیل کې د مرافعه محکمې رئیس ټینګار وکړ، چې له دې وروسته باید د هیئت هېڅ غړی غیرحاضر نه شي او د میاشتې لیدلو لپاره په خپلو ټاکل شویو ځایونو کې حاضر وي؛ ځکه چې دا د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله‌تعالی) فرمان دی.

همدارنګه، د هیئت له غړو وغوښتل شول، چې په ولسوالیو کې خپلو اړوندو غړو ته د هیئت په غونډو او د میاشتې لیدلو په پروسه کې د منظم ګډون او پابندۍ په اړه لازمې لارښوونې وکړي.

د غونډې په پای کې ګډونوالو ډاډ څرګند کړ، چې خپل مسئولیتونه به په پوره صداقت او ایماندارۍ سره ترسره کوي.

## د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې رئیس په مشرۍ اداري غونډه وشوه

د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې عمومي رئیس الحاج مفتي عبیدالله (خالد) په مشرۍ؛ د ښاري ابتدائیه محکمې رئیس الحاج مولوي محمد رحیم (نعماني)، قاضي صاحبانو، قضائي غړو او اداري کارکوونکو په ګډون، په ۱۴۴۸/۴/۲۴هـ ق نېټه اداري غونډه وشوه.

غونډه د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت سره پیل شوه؛ ورپسې د ښاري ابتدائیه محکمې رئیس خبرې وکړې وویل، ټول ملګري باید خپل کارونه په اخلاص، دیانت او امانتدارۍ سره ترسره کړي، تر څو د خلکو موضوعاتو ته په ټاکلي وخت او شفاف ډول رسېدنه وشي، د موضوعاتو د حل په برخه کې د خنډ او ځنډ مخنیوی وشي او د ټولو ملګرو باید سیرت او صورت د شریعت موافق وي.

د غونډې په دوام د مرافعه محکمې عمومي رئیس د یاد مجلس ګډونوالو ته د یو شمېر موضوعاتو ترڅنګ زیاته کړه، چې موږ او تاسو باید د الله تعالی او د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د اطاعت تر څنګ د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله‌تعالی) اطاعت په هر وخت کې په پوره معنی سره وکړو، فرامینو ته یې باید ژمن پاتې شو او په ځان یې عملي کړو، تر څو د دنیا او اخرت له عذاب څخه خلاص شو.

نوموړي زیاته کړه، زموږ صورت او سیرت باید له شریعت سره برابر وي، د محکمې له اجناسو او امکاناتو څخه باید په سمه توګه استفاده وکړو؛ ځکه دلته هر څه له موږ سره امانت دي، له خلکو سره باید ښه چلند وکړو، څو خلک زموږ له ښو اخلاقو څخه اغېزمن شي.

د مرافعه محکمې رئیس څرګنده کړه، چې د محاکمو قضائي او اداري منسوبین باید په ټاکلي وخت او په پوره معنا خپلو دندو ته رسېدنه وکړي، څو د خلکو ستونزې حل او چارې یې پر وخت ترسره شي او هېڅوک بې‌موجبه زیانمن نه شي.

## جلسه هماهنگی میان اعضای هیئت رؤیت هلال ولایت غور برگزار گردید

جلسه هماهنگی هیئت رؤیت هلال تحت رهبری الحاج شیخ عبدالکریم ابوحمدالله (صمیم) رئیس عمومی محکمه مرافعه ولایت غور؛ با اشتراک نماینده مقام ولایت، رئیس امر بالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات، رئیس محکمه نظامی، رئیس شورای علماء، رئیس حج و اوقاف، رئیس معارف و دو تن از علماء جید، به تاریخ ۲۷ /٤ /١٤٤٨هـ ق برگزار گردید.

ابتداء جلسه با تلاوت چند آیات از کلام الله مجید توسط یک تن از اشتراک کننده آغاز شد؛ سپس رئیس محکمه مرافعه به تمام اعضای جلسه کمیته رؤیت هلال خوش آمدید گفت و متحدالمآل شماره (۳۸۲/۵۴۷) مؤرخ، ۸ /۴ /۱۴۴۸هـ ق مقام عالی ستره محکمه را تشریح کرد.

رئیس محکمه مرافعه به تمام اعضای هیئت رؤیت هلال تأکید کرد که رؤسای محترم به مدیریت‌های خویش به ولسوالی‌ها که عضو هیئت رؤیت هلال هستند توصیه موصوف تأکید نمود، که تمام اعضای رؤیت هلال باید در نشست‌های ماهوار این هیئت اشتراک ورزیده و به این بخش توجه جدی داشته باشند.

جدی نمایند؛ تا در هر ماه در نشست‌های رؤیت هلال ولسوالی‌ها اشتراک نموده و گزارش خویش را ارائیه نمایند.

در پایان، تمام اعضای هیئت رؤیت هلال تعهد سپردند، که تمام سفارش‌ها و رهنمودهای ارائیه شده را عملی نموده و در نشست‌های هیئت رؤیت هلال در وقت معین و در مکان معین اشتراک خواهند کرد.

## د خوست ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۵۹۲) دوسیو ته رسېدنه کړې او (۳۱۸) وثیقې یې هم اجراکړې دي

د خوست ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه، اختصاصي او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې (له ۱ /۴ /۱۴۴۸هـ ق څخه تر ۲۹ /۴ /۱۴۴۸هـ ق) نېټې پورې (۵۹۲) دوسیو ته رسېدنه کړې او (۳۱۸) وثیقې یې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په حقوقي برخه کې د (۲۶۶) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۱۳) دوسیې فیصله شوې، (۱۹) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په جزائي برخه کې د (۵۵) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۳۵) دوسیې فیصله شوې، (۴) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د خوست ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۳۱۸) بېلا بېلې وثیقې هم اجراکړې دي.

## محاکم ولایت بادغیس طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۸۵۸) دوسیه، به تعداد (۲۸۱) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌های ولایت بادغیس طی یک ماه (از ۱/ ۴/ ۱۴۴۸هـ ق الی ۲۹/ ۴/ ۱۴۴۸هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۸۵۸) دوسیه، به تعداد (۲۸۱) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۶۱۸) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۴۷۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۷۹) دوسیه فیصله شده، (۳۹) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۱۸۹) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۲۱۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۶) دوسیه فیصله شده، (۱۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بادغیس به تعداد (۲۸۱) قطعه وثایق مختلف‌النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت پروان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۲۵۷) دوسیه، به تعداد (۱۸۸) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌های ولایت پروان طی دو هفته (از ۱۳ /۴ /۱۴۴۸هـ ق الی ۲۵ /۴ /۱۴۴۸هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۲۵۷) دوسیه، به تعداد (۱۸۸) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است؛ که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۹۲) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به تعداد (۱۳۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۱) دوسیه فیصله شده، (۲۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۸۷) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به تعداد (۲۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۲) دوسیه فیصله شده، (۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت پروان به تعداد (۱۸۸) قطعه وثایق مختلف‌النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت غور طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۲۹۴) دوسیه، به تعداد (۱۴۱) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، ابتدائیه شهری، نظامی زون غور و ابتدائیه ولسوالی‌های ولایت غور طی دو هفته (از ۱۵ /۴ /۱۴۴۸هـ ق الی ۲۹ /۴ /۱۴۴۸هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۲۹۴) دوسیه، به تعداد (۱۴۱) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۰۲) دوسیه حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۱۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۹) دوسیه فیصله شده، (۲۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۰۳) دوسیه جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۴۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۳) دوسیه فیصله شده، (۱۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت غور به تعداد (۱۴۱) قطعه وثایق مختلف‌النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د بلخ ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۱۴۰۷) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۱۲۲۰) وثیقې هم اجرا کړې دي

د بلخ ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه، د بلخ زون اختصاصي او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې (له ۱ /۴ /۱۴۴۸هـ ق څخه تر ۲۹ /۴ /۱۴۴۸هـ ق) نېټې پورې (۱۴۰۷) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۱۲۲۰) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په یوه میاشت کې (۸۲۳) حقوقي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۶۰۲) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۲۱۶) دوسیې فیصله شوې، (۱۲۵) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په یوه میاشت کې (۴۰۸) جزائي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۴۶) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۲۰۱) دوسیې فیصله شوې، (۱۷) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۱۲۲۰) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم ولایت هرات طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۵۲۳) دوسیه، به تعداد (۶۶۴) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت هرات، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری، ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها و محکمه اختصاصی از تاریخ (۱۶ /۴ /۱۴۴۸هـ ق الی ۲۹ /۴ /۱۴۴۸هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی، تجارتی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۴۷۴) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۴۱۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۷۳) دوسیه فیصله شده، (۲۳۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳۳۴) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۳۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۸۶) دوسیه فیصله شده، (۲۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش تجارتی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۴۰) دوسیهٔ تجارتی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۲۹۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۵) دوسیه فیصله شده، (۲۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت هرات به تعداد (۶۶۴) قطعه وثایق مختلف‌النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت بدخشان طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۶۹۹) دوسیه به تعداد (۴۵۳) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، وثایق، ابتدائیه شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌های ولایت بدخشان طی یک ماه (از ۱ /۴ /۱۴۴۸هـ ق الی ۲۹ /۴ /۱۴۴۸هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۶۹۹) دوسیه به تعداد (۴۵۳) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بدخشان به تعداد (۵۶۱) دوسیهٔ حقوقی رسیدگی صورت گرفته‌است.

از آن جمله در رابطه به (۳۱۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۱۳) دوسیه فیصله شده و (۱۳۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده‌است.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بدخشان به تعداد (۱۳۸) دوسیهٔ جزائی رسیدگی صورت گرفته‌است.

از آن جمله در رابطه به (۷۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۹) دوسیه فیصله شده و (۱۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده‌است.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بدخشان به تعداد (۴۵۳) قطعه وثایق مختلف‌النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت دایکندی طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۹۱) دوسیه، به تعداد (۸۱) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌های ولایت دایکندی طی دو هفته (از ۱۶/ ۴/ ۱۴۴۸هـ ق الی ۲۹/ ۴/ ۱۴۴۸هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۹۱) دوسیه، به تعداد (۸۱) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۲۳) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۵) دوسیه فیصله شده، (۱۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۵۷) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۲۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۴) دوسیه فیصله شده و دوسیه‌های باقی‌مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت دایکندی به تعداد (۸۱) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت کاپیسا طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۴۴۷) دوسیه، به تعداد (۲۳۳) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، ابتدائیه شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌های ولایت کاپیسا طی یک ماه (از ۱/ ۴/ ۱۴۴۸هـ ق الی ۲۹/ ۴/ ۱۴۴۸هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۴۴۷) دوسیه، به تعداد (۲۳۳) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۲۰۰) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۵۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۵) دوسیه فیصله شده، (۹) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۲۳۱) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۲۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۷۹) دوسیه فیصله شده، (۲۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت کاپیسا به تعداد (۲۳۳) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

مسئول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیټور: جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه ځرګندويه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## د سترې محکمې د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست اړوند قضائي تدقیق ریاست د ربیع الآخر میاشتې د فعالیتونو لنډ راپور

د سترې محکمې د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست اړوند قضائي تدقیق ریاست د روان ۱۴۴۸ هـ ق کال د ربیع الآخر میاشتې په جریان کې د (۹۵) بېلا بېلو موضوعاتو په اړه تدقیقي نظریات ورکړي؛ چې په دې کې د قضائي تدقیق ریاست د (۸) جزائي استهداآتو په اړه تدقیقي نظریات، د (۶) تجارتي استهداآتو په اړه تدقیقي نظریات، د (۱۳) مدني استهداآتو په اړه تدقیقي نظریات، د (۱۲) وثایقو استهداآتو په اړه تدقیقي نظریات، د (۸) متفرقو استهداآتو په اړه تدقیقي نظریات، د (۱۸) قضائي تفتیش د راپورونو په اړه تدقیقي نظریات، (۱) د عارضینو د عریضې په اړه تدقیقي نظر او (۹) مکتوبي موضوعات شامل دي.

## د فراه ولایت مرافعه محکمې د مسئولینو په هڅو د قتل موضوع حل او فصل شوه

د فراه ولایت مرافعه محکمې د مسئولینو په ډېرو هڅو؛ د قومي مشرانو په منځګړیتوب، په ۲۹/ ۴/ ۱۴۴۸ هـ ق نېټه د قتل موضوع د سولې له لارې حل او فصل شوه.

د قتل یاده پېښه د فراه ولایت د ګلستان ولسوالۍ په مربوطاتو کې رامنځته شوې وه؛ چې دوه کسان په کې په قتل رسېدلي وو. یاده موضوع محکمې ته له راجع کېدو وروسته په غور او دقت وڅېړل شوه؛ ورپسې د مرافعه محکمې مسئولینو د قضیې د حل او فصل په موخه جانبینو ته د سولې ترغیب ورکړ، دوی هم ومنله او موضوع یې رسمًا پای ته ورسېده.




## د قضائي تفتیش عمومي ریاست مفتشینو د فاریاب ولایت له محاکمو او مرکزي زندان څخه لیدنه وکړه

د سترې محکمې د محترم مقام په هدایت د قضائي پلټنې د عمومي ریاست یوه مؤظف پلاوي د محترم مولوي سیف الرحمن (ذاکر) په مشرۍ، چې مولوي عبدالحلیم (مظهري) او مولوي شمس الدین (احدي) یې غړیتوب درلود، د روان ۱۴۴۸هـ ق کال د ربیع الآخر میاشتې په لومړۍ نېټه فاریاب ولایت ته د محاکمو د تېرو فعالیتونو د څېړلو په موخه سفر وکړ.

د لیدنې په پیل کې یاد هیئت د مرافعه محکمې له رئیس سره وکتل؛ ورپسې یې د بندیانو د ستونزو د څېړلو په موخه د فاریاب ولایت له مرکزي زندان او توقیفخونې څخه لیدنه وکړه، د یاد محبس او توقیفخونې اړوند نارینه‌وو، ښځینه‌وو او ماشومانو بندیانو بشپړ شهرت، کیفیت او اړتیاوې یې له ځان سره یادداشت او بیا یې له اړوند محاکمو سره شریک کړل.

هیئت د خپل کاري پلان له مخې د یاد ولایت (۱۸) ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو، د حقوقو مدیریتونو، د ښاري او مرافعه محاکمو اړوند دیوانونو، د اسنادو، مخزن، وثایقو او حقوقو آمریتونو، اختصاصي او نظامي محاکمو څخه جلا جلا لیدنه وکړه.

نوموړي هیئت د پلټنې بهیر په ترڅ کې د یادو محاکمو د قضائي او اداري چارو هر اړخیزه پلټنه وکړه، د محاکمو د قضائي او اداري پرسونل د سلوکي او مسلکي اړخونو معلومات یې واخېستل او د چارو د سمون په برخه کې یې ورته لازمي لارښوونې وکړې.

دغه راز یاد هیئت د محاکمو اړوند شته ستونزې، کاري خنډونه او نیمګړتیاوې له ځان سره یادداشت او په پای کې یې د ستونزو د حل، د خنډونو له منځه وړلو او د نیمګړتیاوو د اکمال په اړه د فاریاب ولایت د مرافعه محکمې له مقام سره تفاهمي ناسته وکړه او اړوند ستونزې یې په جلا جلا توګه ورسره شریکې کړې.

د پلټنې هیئت د خپل سفر په جریان کې د یاد ولایت له والي او د ولسوالیو له ځینو مسئولینو سره ناستې وکړې او د محاکمو د فعالیتونو د لا ښه پرمختګ او ځینو اړونده ستونزو د حل په موخه یې د هغوی نظرونه واورېدل.

د پلټنې هیئت یاد له لاسته راوړنو ډک سفر د ۱۴۴۸هـ ق کال د ربیع الآخر میاشتې په ۲۴مه نېټه پای ته ورسېد.

## د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ۱۴**
**نېټه: ۲۳/ ۴/ ۱۴۴۸ هـ ق**

د سترې محکمې د ریاستونو، تمیزونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د ځینو موضوعاتو اړوند د مرکزي دارالافتاء لوی ریاست فتوی شمېره (۱۵۸۸) مورخ ۱۴۴۷/۷/۱۸ هـ.ق مطابق د اجراآتو ترسره کولو په هکله

د ځینو موضوعاتو په هکله د مرکزي دارالافتاء لوی ریاست فتوی شمېره (۱۵۸۸) مورخ ۱۴۴۷/۷/۱۸ هـ.ق په هکله عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی عالي مقام د حکم شمېره (۱۵۵۲/۶۸۳) مورخ ۱۴۴۸/۳/۱۶ هـ.ق په توسط ټولو وزارتونو، مستقلو ریاستونو او ادارو ته داسې هدایت کړی: "د اسلامي امارت ټول وزارتونه، مستقل ریاستونه او اداري دي د استفتاء په متن کې د یادو شویو موضوعاتو په څېر، د ټولو موضوعاتو په هکله د مرکزي دارالافتاء لوی ریاست د ۱۴۴۷/۸/۱ هـ.ق نېټې د (۱۵۸۸) ګڼه فتوی مطابق اجراآت ترسره کړي."

بناءً د مرکزي دارالافتاء ذکر شوې فتوی د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د یاد حکم مطابق، د سترې محکمې محترم عالي مقام مشورتي مجلس مورخ ۱۴۴۸/۴/۷ هـ.ق هدایت سره سم، د دې متحدالمآل مل په اته (۸) ورقو کې د عملي کولو په موخه تاسو ته واستول شوه.

**د متحدالمآل ګڼه: ۱۵**
**نېټه: ۲۴/ ۴/ ۱۴۴۸ هـ ق**

د سترې محکمې د ریاستونو، تمیزونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د انفکاک او عدم انفکاک په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی عالي مقام حکم

د هغو کارکوونکو/ منسوبینو په هکله چې د اړونده محکمې لخوا محکوم او د محکومیت دوره یې بشپړه شوې وي عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی عالي مقام د حکم شمېره (۶۵۸۰/۳۰۴۱) مورخ ۱۴۴۷/۹/۱۴ هـ.ق په توسط داسې هدایت کړی: "د انفکاک او عدم انفکاک حکم دې محکمه صادره وي؛ البته د استخدام په صورت کې دې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی څخه هدایت اخیستل کیږي."

بناءً د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی عالي مقام یاد حکم د سترې محکمې محترم عالي مقام د مشورتي مجلس مورخ ۱۴۴۸/۴/۷ هـ.ق هدایت سره سم، د دې متحدالمآل په توسط د عملي کولو په موخه تاسو ته واستول شو.

قضائي فرامین او احکام
(۶)



## د محاکمو د کاري وخت د تعیین په هکله د عَالِیقَدرْ اَمِیرُالمُؤمِنِینْ حَفِظَهُ اللهُ تَعَالیٰ حکم

ګڼه: ۱/ج/۴۹۴
نېټه: ۱۴۴۳/۹/۴۲ هـ ق

**د محاکمو د کاري وخت د تعیین په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله حکم**

بسم الله الرحمن الرحیم

دا چې اوس ناسم شرائط پای ته رسېدلي او اسلامي امارت په ټول ملک کې کاملاً واکمن دی نو د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونه، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه ټولو محکمو کې د کاري وخت په لاندې توګه تعی کړي:

د کال لومړی شپږ میاشتې (د حمل لومړۍ نېټې څخه د سنبلې تر پایه) د هرې شنبې څخه تر چهارشنبې د سهار د اتو (۸) بجو څخه د ماپښین تر څلور (۴) بجو پورې، د ډوډۍ خوړلو او لمانځه ادا کولو لپاره د دوولس (۱۲) بجو څخه تر یوې (۱) بجې پورې وقفه ده او هره پنجشنبه د سهار د اتو (۸) بجو څخه د ماپښین تر یوې (۱) بجې پورې پرته له وقفې.

د روژې مبارکې په میاشت کې د شنبې تر پنجشنبې پورې د سهار له اتو (۸) بجو څخه تر یوې (۱) بجې پورې پرته له وقفې.

د کال په دوهمو شپږو میاشتو کې (د میزان له لومړۍ نېټې څخه د حوت تر پایه) د هرې شنبې څخه تر چهارشنبې د سهار د اته نیمو (۸:۳۰) بجو څخه د ماپښین تر درې نیمو (۳:۳۰) بجو پورې، د ډوډۍ خوړلو او لمانځه اداکولو لپاره د دوولس (۱۲) بجو څخه تر یوې (۱) بجې پورې وقفه ده او هره پنجشنبه د سهار د اته نیمو (۸:۳۰) بجو څخه د ماپښین د یوې نیمې (۱:۳۰) بجې پورې پرته له وقفې.

بناءً د اسلامي امارت تمیزونه، دیوانونه، مرافعه او ابتدائیه ټولې محکمې دې د پورتنیو وختونو سره سم خپل کارونه تنظیم کړي او د دغه حکم سره نور هغه مخکني مکتوبونه چې ټکر لري لغوه دي؛ قابل عمل نه دي، دغه حکم د ټولو محکمو ته په متحدالمآل ډول واستول سي.

**والسلام**

**د اسلامي امارت مشرتابه مقام**

میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې
پته: ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc١٤٤٣@gmail.com
www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳